سمیع الدین افغاني ۲۰۱۹/۰۷/۰۷

# سوله او امن غواړو

زمونږ د امن د سکون خبر ده دا د یو والي ،پیوستون خبر ده
دلته کې سوله مونږ امان غواړو بیا رغوني د سمون خبر ده

که تشدد دی یا د سولې پیغام دغه د وخت دا د ازمون خبر ده
مونږه د ظلم، اسارت خلاف یو په سوکالی کې د ژوندون خبر ده

دا مو ده هیله دا آرمان زړګو کې دې بد حالت نه دخلاصون خبر ده
د افغانیت، اسلام ، وطن تر نامه د یو روښانه سباوون خبر ده

د ظلم ، زور او دهشتګرو مخ ته د ټول افغان د یو تړون خبر ده
دننګ په نیت به نور یوکیږو سره ددې ظلمت نه د بدلون خبر ده

دی پوه تدبیر ورته پکار ملګرو          د پـوهـې لارې د لټون خبر ده
دا مو ټینګ عزم ، اراده کړې ده          د انقلاب د ستر پاڅون خبر ده

د ننګ، غیرت په لار به ځو مطلب ته
دا مـو د ژونـد دا مـو د شتـون خبر ده

۷ – ۷ - ۲۰۱۹

م ۰ کال

یادونه:

که چیری ګران لوستونکی و غواړی چی د دی شاعر او لیکوال نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی او مطالب د «آرشیف» فهرست ته، لار بنودنه تر لاسه کړی!

سوله او امن غواړو

Afghani_s_۸۵_sola_ao_amn_ghoaloo.docx